# دافغانستان اسلامي جمهوریت
## دعدليې وزارت

# رسمي جريده

- دافغانستان په اسلامي جمهوریت کې دبهرنیو اتباعو دمسافرت او استوګنې(اقامت)دقانون دځینو مادو تعدیل او ایزاد
- دشپې لوړو زده کړو دمقررې دپنځلسمې مادې بیا تعدیل
- دکانکور دآزموینو دچارو دتنظیم مقرره

- تعدیل و ایزاد دربرخی از مواد قانون مسافرت و اقامت اتباع خارجی درجمهوری اسلامی افغانستان
- تعدیل مجدد مادۀ پانزدهم مقررۀ تحصیلات عالی شبانه
- مقررۀ تنظیم امور امتحانات کانکور

دخپرېدو نېټه: د ۱۳۹۷هـ.ش کال دغبرګولي دمياشتې(۲۰)
پرله پسې نمبر:(۱۳۰۲)

تاریخ نشر:(۲۰)جوزا سال۱۳۹۷ هـ.ش
نمبر مسلسل:(۱۳۰۲)

| | |
|---|---|
| د امتیـــاز خاوند: | د عدلیـــي وزارت |
| مسئول چلوونکی: | قانونمل محمدرحیم "دقیق" |
| | ۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷ |
| د دفتر تیلفون: | ۰۲۰۲۳۱۴۲۹۸ |
| مرستیـــال: نورعلم | ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸ |
| مهتمـــم: محمد جان | ۰۷۴۷٦۲۷۹۳۰ |
| وب سایت: | www.moj.gov.af |

قیمت این شماره (به اساس قرارداد): (۱۱,۲۰) افغانی

تیراژ چاپ: (۳۰۰۰) جلد

تعداد صفحات به شمول پشتی: (۴۰) صفحه

مطبعه: بهیـــر

آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات و ارتباط عامه، سرک(۱۵)وزیرمحمداکبرخان(شیرپور)،کابل

**د افغانستان په اسلامي جمهوريت کې د بهرنيو اتباعو د مسافرت او استوګنې (اقامت) د قانون په ځينو مادوکې د تعديل او ايزاد د توشېح په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس فرمان**

ګڼه: (۲۵۰)

نېټه: ۲۲ / ۱۱/ ۱۳۹٦

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د څلورشپېتمې مادې د ۱٦ جزء د حکم له مخې، د افغانستان په اسلامي جمهوريت‌کې دبهرنيو اتباعو د مسافرت او استوګنې (اقامت) د قانون په ځينو مادوکې تعديل او ايزاد چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د ملي شوري د ولسي جرګې د۲۰/ ۸/ ۱۳۹٦ نېټې (۲۸۹) ګڼې مصوبې او مشرانو جرګې د ۷/ ۹/ ۱۳۹٦ نېټې (۲۹۰) ګڼې مصوبې پربنسټ تصويب شوي دي،

**فرمان رئيس جمهوری اسلامی افغانستان درمورد توشيح تعديل و ايزاد در برخی از مواد قانون مسافرت و اقامت اتباع خارجی در جمهوری اسلامی افغانستان**

شماره: (۲۵۰)

تاريخ: ۱۳۹٦/۱۱/۲۲

**مادۀ اول:**

به تأسی از حکم جزء ۱٦ مادۀ شصت و چهارم قانون اساسی افغانستان، تعديل و ايزاد در برخی از مواد قانون مسافرت و اقامت اتباع خارجی در جمهوری اسلامی افغانستان را که به اساس مصوبۀ شماره (۲۸۹) مؤرخ ۱۳۹٦/۸/۲۰ ولسی جرگه و مصوبۀ شماره (۲۹۰) مؤرخ ۱۳۹٦/۹/۷ مشرانو جرگه شورای ملی تصويب گرديده است،

توشیح کوم.

**درېیمه ماده:**

دغه فرمان د توشیح له نېټې څخه نافذ او د ملي شورې د مجلسینو له مصوبو او د نوموړي تعدیل له متن سره یو ځای دې په رسمي جریده کې خپور شي.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس**

توشیح می دارم.

**مادۀ دوم:**

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با مصوبات مجلسین شورای ملی و متن تعدیل متذکره، در جریدۀ رسمی نشر گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

**دافغانستان اسلامي جمهوري دولت**

**ملي شوري**

**ولسي جرگه**

**د افغانستان په اسلامي جمهوريت کې د بهرنيو اتباعو د مسافرت او استوگنې (اقامت) د قانون د ځينو مادو د تعديل او ايزاد په هکله**

**مصوبه**

گڼه: (۲۸۹)

نېټه: ۲۰/ ۸/ ۱۳۹٦

ولسي جرگې د افغانستان د اساسي قانون د (۹۱) او (۹۷) مادو د حکمونو له مخې، د ۲۰/ ۸/ ۱۳۹٦ نېټې دشنبې دورځې په خپله عمومي غونډه کې د افغانستان په اسلامي جمهوريت کې دبهرنيو اتباعو د مسافرت او استوگنې ( اقامت) د قانون د ځينو مادو دتعديل او ايزاد په هکله د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس د ۱۴/ ٦/ ۱۳۹٦نېټې (۱۴۷) گڼه تقنيني فرمان له يو لړ

**دولت جمهوری اسلامی افغانستان**

**شورای ملی**

**ولسی جرگه**

**مصوبه**

**درمورد تعديل و ايزاد دربرخی از مواد قانون مسافرت و اقامت اتباع خارجی در جمهوری اسلامی افغانستان**

شماره: (۲۸۹)

تاريخ: ۱۳۹٦/۸/۲۰

ولسی جرگه به تأسی از احکام مادۀ (۹۱) و مادۀ (۹۷) قانون اساسی افغانستان، در جلسۀ عمومی روز شنبه مؤرخ ۱۳۹٦/۸/۲۰ خويش، فرمان تقنينی شماره (۱۴۷) مؤرخ ۱۳۹٦/٦/۱۴ رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد تعديل و ايزاد در برخی از مواد قانون مسافرت و اقامت اتباع خارجی در جمهوری اسلامی افغانستان را با يک سلسله تعديلات به اکثريت

تعديلونو سره د حاضرو غړو د رأيو په اکثريت تصويب کړ.

**الحاج عبدالرووف ابراهيمي**
**د ولسي جرګې رئيس**

آرای اعضـــای حاضـــر در مجلـــس تصویب نمود.

**الحاج عبدالرووف ابراهیمی**
**رئیس ولسی جرگه**

**دافغانستان اسلامي جمهوري دولت**

**ملي شوري**

**مشرانو جرگه**

**د افغانستان په اسلامي جمهوريت کې د بهرنيو اتباعو د مسافرت او استوګنې (اقامت) د قانون د ځينو مادو د تعديل او ايزاد په اړوند د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس (۱۴۷) ګڼه تقنيني فرمان په هکله**

**مصوبه**

ګڼه: (۲۹۰)

نېټه: ۷/ ۹/ ۱۳۹۶

مشرانو جرګې د افغانستان د اساسي قانون د نوي يمې مادې د حکم له مخې، د ۷/ ۸/ ۱۳۹۶ نېټې د سه شنبې ورځې په عمومي غونډه کې د افغانستان په اسلامي جمهوريت کې دبهرنيو اتباعو د مسافرت او استوګنې (اقامت) د قانون د ځينو مادو دتعديل او ايزاد په اړوند د افغانستان د اسلامي

**دولت جمهوری اسلامی افغانستان**

**شورای ملی**

**مشرانو جرگه**

**مصوبه**

**در مورد فرمان تقنینی شماره (۱۴۷) رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در رابطه به تعدیل و ایزاد برخی از مواد قانون مسافرت و اقامت اتباع خارجی در جمهوری اسلامی افغانستان**

شماره: (۲۹۰)

تاریخ: ۱۳۹٦/۹/۷

مشرانو جرگه به تأسی از حکم مادۀ نودم قانون اساسی افغانستان، در جلسۀ عمومی روز سه شنبه مؤرخ ۱۳۹٦/۸/۷ فرمان تقنینی شماره (۱۴۷) رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد تعدیل و ایزاد برخی ا ز مواد قانون مسافرت و اقامت اتباع خارجی در جمهوری اسلامی افغانستان

جمهوریت د رئیس (۱۴۷) گڼه تقنیني فرمان د رأیو په اکثریت تصویب کړ.

فضل هادي مسلمیار

د مشرانو جرګې رئیس

را بــــه اکثریــــت آراء تصــــویب نمود.

فضل هادی مسلمیار

رئیس مشرانو جرگه

## د افغانستان په اسلامي جمهوریت کې د بهرنیو اتباعو د مسافرت او استوګنې (اقامت) د قانون د ځینو مادو تعدیل او ایزاد

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**د سوداګرۍ ویزه**

**لسمه ماده:**

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوې ویزه د واردېدو له دفعاتو سره له دریو میاشتو څخه تر دریو کلونو مودې لپاره، له هېواد څخه بهر د افغانستان د سیاسي یا قونسلي نمایندګیو له لوري صادرېږي.

(۳) دسوداګرۍ ویزه په هېواد کې دننه د هغې د لرونکي د غوښتنې پربنـــا، د اړوندو دولتي ادارو د معرفۍ پربنسټ، د کورنیو چارو وزارت لـــه لـــوري د کثیر المسافرت په ډول تر دریو کلونو مودې پورې تمدیدېږي.

## تعدیل و ایزاد در برخی از مواد قانون مسافرت و اقامت اتباع خارجی در جمهوری اسلامی افغانستان

## فصل اول

## احکام عمومی

**ویزه تجارت**

**مادهٔ دهم:**

(۲) ویزه مندرج فقرهٔ (۱) این مـــاده برای مـــدت ســـه مـــاه الـــی ســـه ســـال بـــا دفعـــات ورود از طـــرف نمایندگی های سیاسی یـــا قونســـلی افغانستان در خارج از کشور صـــادر می گردد.

(۳) ویزهٔ تجارت در داخل کشور بنا بر تقاضای دارندهٔ آن به اساس معرفی ادارات دولتی ذیربط از طرف وزارت امور داخله به شکل کثیر المســـافرت برای مدت الی ســـه ســـال تمدیـــد می گردد.

## د واردېدو د وخت ویزه

**پنځلسمه ماده:**

۳- بهرني سوداګر او پانګه وال د هغو معتبرو اسنادو په وړاندې کولو سره چې د سوداګرۍ او پانګه اچونې په مقصد افغانستان ته واردېږي، په هغه صورت کې چې د وخت د کموالي له نظره له هېواد څخه بهر د افغانستان د اسلامي جمهوریت له سیاسي او قونسلي نمایندګیو څخه د ویزې په اخیستلو قادر نه وي کولای شي په بین المللي هوایي ډګرونو کې د واردېدو په وخت کې ویزه ترلاسه کړي.

## دریم فصل

## د ویزې د محصول ډولونه

### د ویزې د محصول اخیستل

**اووه ویشتمه ماده:**

۱- د سوداګرۍ ویزه: د واردېدو د دفعاتو له حق سره د دریو میاشتو لپاره څلوېښت (۴۰) امریکایي ډالره، د واردېدو د دفعاتو له حق سره د شپږو میاشتو لپاره اتیا (۸۰) امریکایي ډالره،

## ویزه حین ورود

**مادۀ پانزدهم:**

۳- تاجران و سرمایه گذاران خارجی با ارایه اسناد معتبر که به مقصد تجارت و سرمایه گذاری وارد افغانستان می شوند، در صورتی که نظر به کم بودن وقت قادر به اخذ ویزه از نمایندگی های سیاسی و قونسلی در خارج کشور نباشند می توانند در میدان های هوایی بین المللی حین ورود ویزه اخذ نمایند.

## فصل سوم

## انواع محصول ویزه

### اخذ محصول ویزه

**مادۀ بیست و هفتم:**

۱- ویزۀ تجارت: برای سه ماه و با حق دفعات ورود مبلغ چهل (۴۰) دالر امریکایی، برای شش ماه با حق دفعات ورود مبلغ هشتاد (۸۰) دالر امریکایی، برای یک

د واردېدو د دفعاتو له حــق ســره د يوکال لپاره يوســلو شــپېته (۱٦۰) امريکايي ډالره، د واردېدو د دفعاتو له حق سره د دووکلونو لپاره دوه ســوه پنځوس (۲۵۰) امريکايي ډالــره او د واردېدو د دفعاتو له حق سره د دريــو کلونــو لپــاره، درې ســوه (۳۰۰) امريکايي ډالره ياد هغو معادل په افغانيو اخيستل کېږي.

تر يوه کال پورې د سوداګرۍ د ويزې د تمديد لپاره د هرې مياشتې په وړاندې پنځلس (۱۵) امريکايي ډالره يا د هغو معادل په افغانيو اخيستل کېږي.

سال با دفعات ورود مبلــغ يکصــد وشصــــــت (۱٦۰) دالــــــر امريکـــايی بـــرای دو ســـال بـــا دفعات ورود مبلغ دو صــد وپنجــاه (۲۵۰) دالــر امريکــايی و بــرای سه ســال بــا دفعــات ورود مبلــغ سه صد (۳۰۰) دالر امريکــايی يــا معـــادل آن بـــه افغـــانی اخـــذ می گردد.

برای تمديــد ويــزه تجــارت الــی مــدت يــک ســال در برابــر هــر ماه مبلغ پانزده (۱۵) دالر امريکايی يا معادل آن به افغانی اخذ می گردد.

**د شپې لوړو زده کړو د مقررې د پنځلسمې مادې د بیا تعدیل د انفاذ په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس**

**حکم**

ګڼه: (۴۶۴)

نېټه: ۲۹/ ۲/ ۱۳۹۷

**لومړۍ ماده:**

د شپې لوړو زده‌کړو د مقررې د پنځلسمې مادې بیا تعدیل چې د افغانستان اسلامي جمهوریت کابینې د ۱۹/ ۱/ ۱۳۹۷ نېټې په (۲) ګڼه غونډه کې، د (۲) مادو په دننه کې تصویب شوی دی، منظوروم.

**دوه یمه ماده:**

دغه حکم دافغانستان اسلامي جمهوریت دکابینې له مصوبې او د نوموړې مادې له بیا تعدیل سره یوځای دې په رسمي جریده کې خپور شي.

محمد اشرف غني

د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس

**حکم**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان درمورد انفاذ تعدیل مجدد مادۀ پانزدهم مقررۀ تحصیلات عالی شبانه**

شماره: (۴۶۴)

تاریخ: ۱۳۹۷/۲/۲۹

**مادۀ اول:**

تعدیل مجدد مادۀ پانزدهم مقررۀ تحصیلات عالی شبانه را که درجلسۀ شماره (۲) مؤرخ ۱۳۹۷/۱/۱۹ کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۲) ماده تصویب گردیده است، منظور می‌دارم.

**مادۀ دوم:**

این حکم همراه با مصوبۀ کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان و تعدیل مجدد مادۀ مذکور درجریدۀ رسمی نشر گردد.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

## د شپې لوړو زده کړو د مقررې د پنځلسمې مادې د بیا تعدیل د طرحې په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې مصوبه

ګڼه: (۲)

نېټه: ۱۹/ ۱/ ۱۳۹۷

د افغانستان د اسلامي جمهوریت کابینې د شپې لوړو زده کړو د مقررې د پنځلسمې مادې د بیا تعدیل طرحه د ۱۹/ ۱/ ۱۳۹۷ نېټې په خپله (۲) ګڼه غونډه کې د (۲) مادو په دننه کې تصویب کړه.

محمد اشرف غني

د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس

## مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان درمورد طرح تعدیل مجدد مادهٔ پانزدهم مقررهٔ تحصیلات عالی شبانه

شماره: (۲)

تاریخ: ۱۳۹۷/۱/۱۹

کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان، طرح تعدیل مجدد مادهٔ پانزدهم مقررهٔ تحصیلات عالی شبانه را در جلسهٔ شماره (۲) مؤرخ ۱۳۹۷/۱/۱۹ خویش به داخل (۲) ماده مورد تصویب قرار داد.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

## د شپې لوړو زده کړو د مقررې د پنځلسمې مادې بیا تعدیل

**لومړۍ ماده:**

د ۱۳۹۱ هـ. ش کال په (۱۰۸٦) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د شپې لوړو زده کړو د مقررې د پنځلسمې مادې (۲ او۴) فقرې دې په لاندې متن سره بیا تعدیل شي:

**پنځلسمه ماده:**

(۲) د تحصیلي رشتې له په پام کې نیولو پرته د یوه سمستر تحصیلي حق الاجرت (فیس) اووه زره (۷۰۰۰) افغانۍ دی.

(۴) د معلولیت لرونکو اشخاصو او د شهیدانو او ورکو شوو د پاتې کسانو لپاره د کار او ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو د وزارت له تأیید وروسته د یوه سمستر تحصیلي حق الاجرت (فیس) درې زره او پنځه سوه (۳۵۰۰) افغانۍ اوحق الشمول (داخله) دوه زره (۲۰۰۰) افغانۍ دي.

## تعدیل مجدد مادۀ پانزدهم مقررۀ تحصیلات عالی شبانه

**مادۀ اول:**

فقره های (۲ و۴) مادۀ پانزدهم مقررۀ تحصیلات عالی شبانه منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۱۰۸٦) سال ۱۳۹۱هـ.ش مجدداً به متن ذیل تعدیل گردد:

**مادۀ پانزدهم:**

(۲) حق الاجرت (فیس) تحصیلی یک سمستر بدون درنظرداشت رشتۀ تحصیلی مبلغ هفت هزار (۷۰۰۰) افغانی می‌باشد.

(۴) برای اشخاص دارای معلولیت و بازماندگان شهداء و مفقودین بعد از تائید وزارت کار و امور اجتماعی، شهداء و معلولین حق الاجرت (فیس) تحصیلی یک سمستر مبلغ سه هزارو پنجصد (۳۵۰۰) افغانی وحق الشمول (داخله) مبلغ دو هزار (۲۰۰۰) افغانی می‌باشد.

**دوه یمه ماده:**

**دغه تعدیل په رسمي جریـــده کـــې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.**

**مادۀ دوم:**

**این تعدیل از تاریخ نشـــر در جریـــدۀ رسمی نافذ می‌گردد.**

## د کانکور د آزموینو د چارو د تنظیم د مقررې د انفاذ په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس حکم

ګڼه: (۴۷۱)

نېټه: ۲۹/ ۲/۱۳۹۷

**لومړۍ ماده:**

د کانکور د آزموینو د چارو د تنظیم مقرره چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې د ۱۵/ ۱/۱۳۹۷ نېټې په (۱) ګڼه غونډه کې د (۴) فصلونو او (۲۵) مادو په دننه کې تصویب شوې ده، منظوروم.

**دوه یمه ماده:**

دغه حکم د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې له مصوبې او د یادې شوې مقررې له متن سره یوځای دې په رسمي جریده کې خپور شي.

محمد اشرف غني

د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس

## حکم رئیس جمهوری اسلامی افغانستان درمورد انفاذ مقررهٔ تنظیم امور امتحانات کانکور

شماره: (۴۷۱)

تاریخ: ۱۳۹۷/۲/۲۹

**مادهٔ اول:**

مقررهٔ تنظیم امور امتحانات کانکورکه در جلسهٔ شماره (۱) مؤرخ ۱۳۹۷/۱/۱۵ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۴) فصل و (۲۵) ماده تصویب گردیده است، منظور می دارم.

**مادهٔ دوم:**

این حکم همراه با مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان و متن مقررهٔ متذکره در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

**د کانکور د آزموینو د چارو د تنظیم د مقررې د طرحې په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې**

**مصوبه**

ګڼه: (۱)

نېټه: ۱۵/ ۱/۱۳۹۷

د کانکور د آزموینو د چارو د تنظیم د مقررې طرحه د افغانستان د اسلامي جمهوریت کابینې د ۱۵/ ۱/۱۳۹۷ نېټې په (۱) ګڼه غونډه کې د (۴) فصلونو او (۲۵) مادو په دننه کې تصویب شوه.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس**

**مصوبهٔ**

**کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان**

**در مورد طرح مقررهٔ تنظیم**

**امور امتحانات**

**کانکور**

شماره: (۱)

تاریخ: ۱۳۹۷/۱/۱۵

طرح مقررهٔ تنظیم امور امتحانات کانکور در جلسهٔ شماره (۱) مؤرخ ۱۳۹۷/۱/۱۵ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۴) فصل و (۲۵) ماده تصویب گردید.

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

## فهرست مندرجات

## مقررۀ تنظیم امور امتحانات کانکور

## فصل اول

## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | منظور وضع | ۱۸ |
| مادۀ دوم: | اصطلاحات | ۱۸ |
| مادۀ سوم: | اخذ امتحان | ۱۹ |


## فصل دوم

## تعیین اعضای کمیتۀ امتحان کانکور و تثبیت حق الزحمۀ آنها


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ چهارم: | کمیتۀ امتحان کانکور | ۲۰ |
| مادۀ پنجم: | اعضای کادری | ۲۰ |
| مادۀ ششم: | اعضای تخنیکی | ۲۱ |
| مادۀ هفتم: | اعضای اداری و خدماتی | ۲۱ |
| مادۀ هشتم: | اعضای امنیتی | ۲۱ |
| مادۀ نهم: | کارکنان چک و انتری | ۲۱ |
| مادۀ دهم: | منع خروج از محل چاپ سوالات امتحان کانکور | ۲۲ |
| مادۀ یازدهم: | حق الزحمه | ۲۳ |
| مادۀ دوازدهم: | شرایط حق الزحمه | ۲۳ |
| مادۀ سیزدهم: | طرز پرداخت حق الزحمه | ۲۴ |

## فصل سوم

## مکلفیت های متقاضی امتحان کانکور

مادۀ چهاردهم: رعایت موارد........................................۲۸
مادۀ پانزدهم: ممنوعیت متقاضی کانکور..............................۲۹
مادۀ شانزدهم: تأدیب متقاضی کانکور...................................۳۱
مادۀ هفدهم: تأدیب اعضای کمیته.......................................۳۱

## فصل چهارم

## احکام متفرقه

مادۀ هجدهم: تعیین تعداد اعضای کمیتۀ امتحان کانکور................ ۳۲
مادۀ نزدهم: تعیین تعداد استادان ممتحن...............................۳۲
مادۀ بیستم: مکلفیت رئیس عمومی امتحانات............................۳۳
مادۀ بیست ویکم: حالات قطع حق الزحمه...............................۳۳
مادۀ بیست ودوم: تزئید و تنقیص..........................................۳۴
مادۀ بیست وسوم: بودجۀ مورد نیاز حق الزحمه.........................۳۴
مادۀ بیست وچهارم: منع استفاده از وسایل الکترونیکی..................۳۴
مادۀ بیست وپنجم: انفاذ.......................................................۳۵

## د کانکور د آزموینو د چارو د تنظیم مقرره

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**د وضع منظور**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره د کانکور د آزموینو د چارو د تنظیم په منظور وضع شوې ده.

**اصطلاحګانې**

**دوه یمه ماده:**

راتلونکې اصطلاحګانې په دغې مقرره کې لاندې مفاهیم افاده کوي:

۱- د کانکور آزموینه: ملي، سراسري او سیالیزه پروسه ده چې د لیسانس، ماسترۍ او دکتورا په تحصیلي مقطع کې د متقاضي اشخاصو د تثبیت په منظور دایرېږي.

۲- ممتحن استاد: د لوړو زده کړو د مؤسسو استاد او د استاد مرستیال دی چې د کانکور د آزموینې د اخیستلو په

## مقررۀ تنظیم امور امتحانات کانکور

## فصل اول

## احکام عمومی

**منظور وضع**

**مادۀ اول:**

این مقرره به منظور تنظیم امور امتحانات کانکور، وضع گردیده است.

**اصطلاحات**

**مادۀ دوم:**

اصطلاحات آتی در این مقرره مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

۱- امتحان کانکور: پروسۀ ملی، سرتاسری و رقابتی است که به منظور تثبیت اشخاص متقاضی در مقطع تحصیلی لیسانس، ماستری و دکتورا دایر می‌گردد.

۲- استاد ممتحن: استاد و معاون استاد مؤسسات تحصیلات عالی است، که به منظور اخذ امتحان کانکور در

منظور د کانکور د آزموینې د ترسره کېدو په حوزو کې توظيفېږي.

۳- قرنطين: هغه تدابير دي چې د کانکور د آزموینې د پوښتنو د محرميت د ساتلو په منظور د هغو د ترتيب او طبع په وخت کې ترلاس لاندې نيول کېږي او عملي کېږي.

۴- حق الزحمه: هغه وجه ده چې د کانکور د آزموینې د اړوندو چارو د پرمخ بېولو په وړاندې ددې مقررې له حکمونو سره سم د کانکور د آزموینې د کمېټې غړو ته ورکول کېږي.

## د آزموینې اخيستل

دريیمه ماده:

د کانکور آزموینې د لېسانس په مقطع کې، د ښوونځيواو د لوړو او نيمه لوړو زده کړو دولتي (ملکي او نظـامي) او خصوصي مؤسسو له فارغانو څخه د لـوړو زده کـړو وزارت د آزموينـو رياست په واسطه اخيستل کېږي.

حوزه های برگزاری امتحان کانکور توظیف می‌گردد.

۳- قرنطین: تدابیری است، که به منظور حفظ محرمیت سوالات امتحان کانکور حین ترتیب و طبع آن اتخاذ و عملی می‌گردد.

۴- حق الزحمه: وجهی است، که در مقابل پیشبرد امور مربوط به امتحان کانکور، مطابق احکام این مقرره به اعضای کمیتهٔ امتحان کانکور پرداخته می‌شود.

## اخذ امتحان

مادهٔ سوم:

امتحان کانکور در مقطع لیسانس از فارغان مکاتب و مؤسسات تحصیلات عالی، نیمه عالی دولتی (ملکی و نظامی) و خصوصی توسط ریاست امتحانات وزارت تحصیلات عالی اخذ می‌گردد.

## دوه يم فصل

## د کانکور د آزموينې د کمېټې د غړو ټاکل او د هغوی د حق الزحمې تثبيت

### د کانکور د آزموينې کمېټه

**څلورمه ماده:**

د کانکور د آزموينې کمېټه له کادري غړو، تخنيکي غړو، اداري او خدماتي غړو او امنيتي غړو څخه جوړه ده چې د لوړو زده کړو د وزارت په چوکاټ کې رامنځته کېږي.

### کادري غړي

**پنځمه ماده:**

(۱) د کانکور د آزموينې د کمېټې کادري غړي، استادان او د استادانو مرستيالان دي چې د کانکور د پوښتنو د برابرولو او د آزموينې د اخيستلو په منظور توظيفېږي.

(۲) د کانکور د آزموينې د کادري غړو د ټاکلو معيارونه د جلا لايحې په واسطه تنظيمېږي.

## فصل دوم

## تعيين اعضای کميتۀ امتحان کانکور و تثبيت حق الزحمۀ آنها

### کميتۀ امتحان کانکور

**مادۀ چهارم:**

کميتۀ امتحان کانکور متشکل از اعضای کادری، اعضای تخنيکی، اعضای اداری و خدماتی و اعضای امنيتی می‌باشد، که در چوکات وزارت تحصيلات عالی ايجاد می‌شود.

### اعضای کادری

**مادۀ پنجم:**

(۱) اعضای کادری کميتۀ امتحان کانکور، استادان و معاونين استادان اند، که به منظور ترتيب سوالات کانکور و اخذ امتحان کانکور توظيف می‌گردند.

(۲) معيار های تعيين اعضای کادری کميتۀ امتحان کانکور توسط لايحۀ جداگانه تنظيم می‌گردد.

## تخنيکي غړي

**شپږمه ماده:**

د کانکور د آزموينې د کمېټې تخنيکي غړي هغه کارکوونکي دي چې د تخنيکي او طباعتي چارو د پر مخ بيولو په منظور توظيفېږي.

## اداري او خدماتي غړي

**اوومه ماده:**

اداري او خدماتي غړي هغه کارکوونکي دي چې د اداري او خدماتي چارو د پرمخ بيولو په منظور توظيفېږي.

## امنيتي غړي

**اتمه ماده:**

د کانکور د آزموينې د کمېټې امنيتي غړي هغه مؤظفين دي چې د کانکور د آزموينې د کمېټې د امنيت د تأمين لپاره د ملي امنيت د لوی رياست له خوا توظيفېږي.

## د چک او انتري کارکوونکي

**نهمه ماده:**

د چک او انتري کارکوونکي هغه

## اعضای تخنیکی

**مادۀ ششم:**

اعضای تخنیکی کمیتۀ امتحان کانکور کارکنانی اند، که به منظور پیشبرد امور تخنیکی و طباعتی توظیف می‌گردند.

## اعضای اداری وخدماتی

**مادۀ هفتم:**

اعضای اداری و خدماتی کارکنانی اند، که به منظور پیشبرد امور اداری و خدماتی توظیف می‌گردند.

## اعضای امنیتی

**مادۀ هشتم:**

اعضای امنیتی کمیتۀ امتحان کانکور مؤظفینی اند، که از طرف ریاست عمومی امنیت ملی جهت تأمین امنیت کمیتۀ امتحان کانکور توظیف می‌گردند.

## کارکنان چک و انتری

**مادۀ نهم:**

کارکنان چک و انتری کارکنانی اند،

کارکوونکي دي چې په سیستم کې د داوطلبانو دنوم لیکنـې دفورمـو او د کانکور د آزموینې دنـورو سـندونود چک، اسکن او درجولو د پرمخ بېولو او تنظیم په منظور، توظیفېږي.

## د کانکور د آزموینې د پوښتنو د چاپ له ځای څخه د وتلو منع

لسمه ماده:

(۱) د کانکور د آزموینې د کمېټې غړي نشي کولای د کانکور د آزموینې د پوښتنو د چاپ د پروسې تر پای پورې د کانکور د آزموینې د پوښتنو د چاپ له ځای څخه بهر شي.

(۲) که چېرې د کانکور د آزموینې د پوښتنو چاپ د ورځې د کاري ساعتونو په بهیر کې پای ته ونه رسېږي او د کار د دوام ایجاب وکړي، د شپې له خوا د کانکور د آزموینې د پوښتنو د چاپ له ځای څخه د وتلو منع دوام مومي.

(۳) ددې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې درج شوي حالاتو قرنطین یادېږي.

که به منظور پیشبرد و تنظیم، چـک، اسکن و درج فورم های ثبـت نـام داوطلبان و سـایر اسـناد امتحـان کـانکور در سیسـتم، توظیـف می‌گردند.

## منع خروج از محل چاپ سوالات امتحان کانکور

مادهٔ دهم:

(۱) اعضای کمیتهٔ امتحـان کـانکور نمی‌توانند، الی ختم پروسـهٔ چـاپ سوالات امتحان کانکور، از محل چاپ سوالات امتحـان کـانکور خـارج شوند.

(۲) هرگاه چاپ سـوالات امتحـان کانکور در جریان ساعات کاری روز ختم نگردد و ایجاب ادامـهٔ کـار را نماید، منع خـروج از محـل چـاپ سوالات امتحان کانکور از طرف شب ادامه می‌یابد.

(۳) حالات مندرج فقره های (۱ و۲) این ماده قرنطین نامیده می‌شود.

## حق الزحمه

**یوولسمه ماده:**

د کانکور د آزموینې د کمېټې غړي د هغوی کاري حجم او خصوصیاتو ته په پاملرنې سره د حق الزحمې مستحق دي.

## د حق الزحمې شرایط

**دوولسمه ماده:**

(۱) کــه چېرې د کانکور د آزموینې د کمېټې غړي هغه علمـي، تخنیکـي، نشراتي، اداري خدماتي فعالیتونه او د کانکور د آزموینې اړوند نـور هغـه فعالیتونه چې د رسمي وخت څخه بهر یا د رسمي دندې له ټاکل شوو نورمونو څخـه زیـات، سـرته ورسـوي، د حق الزحمې مستحق دي.

(۲) د کانکور د آزموینې د کمېټـې د غړو حق الزحمه چې د رسمي وخـت څخه بهر د هغوی کار او فعالیت تـه اړتیا وي، د بالفعل خدمت په وړاندې د حاضرۍ دفتر په رویت، د ورکړې وړ ده.

## حق الزحمه

**مادهٔ یازدهم:**

اعضای کمیتهٔ امتحـان کـانکور بـا نظرداشـت حجـم و خصوصـیات کاری آنها مسـتحق حـق الزحمـه می‌باشند.

## شرایط حق الزحمه

**مادهٔ دوازدهم:**

(۱) هرگاه اعضای کمیتـهٔ امتحـان کانکور فعالیت های علمی، تخنیکی، نشـراتی، اداری، خـدماتی و سـایر فعالیت های مربوط امتحان کانکور را خارج از اوقات رسمی یـا اضـافه از نورم های تعیین شدهٔ وظیفهٔ رسـمی، انجام دهند، مستحق حـق الزحمـه می‌باشند.

(۲) حق الزحمهٔ اعضای کمیتهٔ امتحان کانکور که به کار و فعالیت شان خارج از اوقات رسـمی ضـرورت باشـد، در مقابل خدمت بالفعل بـه رویـت دفتـر حاضـری قابـل پرداخـت می‌باشد.

(۳) که چېرې د لـوړو زده کـړو د مؤسسو اداري، روغتيايي او خـدماتي کارکوونکي چې د کانکور د آزموينې د ترسره کېدو په ورځ د هغوی کـار او فعاليت ته اړتيا وي، د حـق الزحمـې مستحق ګرځي.

(۴) که چېرې قرنطين د شپې له خـوا دوام ومومي، د کانکور د آزمـوينې د کمېټې غړي او مؤظف کارکوونکي، د قرنطين د شپې د حق الزحمې مستحق ګرځي.

(۵) د کانکور د آزموينې د کمېټې د غړو حق الزحمه، پر عايداتو د مالياتو د قانون له حکمونو سر ه سم د ماليې تابع ده.

## د حق الزحمې د ورکړې ډول

**ديارلسمه ماده:**

پدې مقرره کې د درج شوو فعـاليتونو حق الزحمه په لاندې ډول تثبيـت او ورکول کېږي:

۱- د کانکور د آزموينې د لوی رئيس حق الزحمه په ورځ کـې دوه زره او

(۳) هرگاه کارکنان اداری، صحی و خدماتی مؤسسات تحصيلات عالی که بـه کـار و فعاليـت شـان در روز برگزاری امتحان کانکور، ضـرورت باشـد، مسـتحق حـق الزحمـه می‌باشند.

(۴) هرگاه قرنطين ازطـرف شـب ادامه يابد، اعضای کميتـۀ امتحـان کانکور و کارکنان مؤظف، مسـتحق حـق الزحمـۀ شـب قـرنطين می‌گردند.

(۵) حق الزحمـۀ اعضـای کميتـه امتحان کانکور طبق احکـام قـانون ماليات بـر عايـدات تـابع ماليـه می‌باشد.

## طرز پرداخت حق الزحمه

**مادۀ سيزدهم:**

حق الزحمۀ فعاليت های مندرج ايـن مقرره طور ذيل تثبيـت و پرداخـت می‌گردد:

۱- حق الزحمۀ رئيس عمومی امتحان کانکور مبلـغ، دوهـزار و پنجصـد

پنځه سوه (۲۵۰۰) افغانۍ.
۲- د کانکور د آزموینې د لوی ریاست د علمي او تخنیکي مرستیال حق الزحمه په ورځ کې دوه زره او دوه سوه او پنځوس (۲۲۵۰) افغانۍ.
۳- د کانکور د آزموینې د کمېټې د آمرحق الزحمه په ورځ کې دوه زره (۲۰۰۰) افغانۍ.
۴- د کانکور د آزموینې د کمېټې د کادري غړي حق الزحمه په ورځ کې یو زرو اووه سوه او پنځوس (۱۷۵۰) افغانۍ.
۵- د کانکور د آزموینې د کمېټې د تخنیکي مسؤولینو حق الزحمه په ورځ کې یو زرو او اووه سوه (۱۷۰۰) افغانۍ.
۶- د کانکور د آزموینې د کمېټې د تخنیکي غړي حق الزحمه په ورځ کې یو زر (۱۰۰۰) افغانۍ.
۷- د کانکور د آزموینې د امنیتي غړي حق الزحمه په ورځ کې یو زر (۱۰۰۰) افغانۍ.
۸- د کانکور د آزموینو د ریاست د

(۲۵۰۰) افغانی در روز.
۲- حق الزحمهٔ معاون علمی و تخنیکی ریاست عمومی امتحان کانکور مبلغ، دوهزار و دوصد وپنجاه (۲۲۵۰) افغانی در روز.
۳- حق الزحمهٔ آمر کمیتهٔ امتحان کانکور مبلغ، دو هزار (۲۰۰۰) افغانی در روز.
۴- حق الزحمهٔ عضو کادری کمیتهٔ امتحان کانکور مبلغ، یکهزار و هفتصد و پنجاه (۱۷۵۰) افغانی در روز.
۵- حق الزحمهٔ مسؤولان تخنیکی کمیتهٔ امتحان کانکور مبلغ، یکهزار و هفتصد (۱۷۰۰) افغانی در روز.
۶- حق الزحمهٔ عضو تخنیکی کمیتهٔ امتحان کانکور مبلغ، یکهزار (۱۰۰۰) افغانی در روز.
۷- حق الزحمهٔ عضو امنیتی کمیتهٔ امتحان کانکور مبلغ، یکهزار (۱۰۰۰) افغانی در روز.
۸- حق الزحمهٔ آمران بخش های

اداري څانګو د آمرينو حق الزحمه پــه ورځ کې نهه ســوه (۹۰۰) افغــانۍ.
۹- د کانکور د آزموينې د کمېټــې د اداري کارکوونکي حق الزحمه په ورځ کـــې اووه ســـوه (۷۰۰) افغـــانۍ.
۱۰- د کانکور د آزموينې د کمېټې د خدماتي کارکوونکي حق الزحمه پــه ورځ کې پنځه سوه (۵۰۰) افغانۍ.
۱۱- د کانکور د آزموينې د ترســره کېـــدو پـــه ورځ د ممـــتحن اســـتاد حق الزحمه په ورځ کې يو زر او دوه سوه (۱۲۰۰) افغانۍ.
۱۲- د هغه ممتحن استاد حق الزحمه چې د کانکور د آزموينې په حوزو کې ولايتونو ته استول کېــږي د ســـفريې سربېره، په ورځ کې يو زر او پنځه سوه (۱۵۰۰) افغانۍ.
۱۳- د هغه روغتيـــايي کـــارکوونکي حق الزحمه چې د کانکور د آزموينې د ترسره کېدو په ورځ دنده اجراء کوي، په ورځ کې نهه سوه (۹۰۰) افغـــانۍ.
۱۴- د عمومي کانکور د آزمـــوينې د داوطلب د نوم ليکنې د فـــي فـــورم د

اداری، رياست امتحانات کانکور مبلغ، نه صد (۹۰۰) افغانی در روز.
۹- حق الزحمهٔ کارکن اداری کميتهٔ امتحان کانکور مبلـــغ، هفـــت صـــد (۷۰۰) افغانی در روز.
۱۰- حق الزحمهٔ کـــارکن خـــدماتی کميتهٔ امتحان کانکور مبلغ، پنجصـــد (۵۰۰) افغانی در روز.
۱۱- حق الزحمهٔ استاد ممتحن در روز برگزاری امتحان کانکور مبلغ، يکهزار و دوصـــــــد (۱۲۰۰) افغـــــــانی در روز.
۱۲- حق الزحمهٔ استاد ممتحن که به حوزه های امتحان کانکور به ولايات اعزام می‌شود، بر علاوهٔ سفريه، مبلغ، يکهزار وپنجصد (۱۵۰۰) افغـــانی در روز.
۱۳- حق الزحمهٔ کارکن صحی که در روز برگزاری امتحان کانکور اجرای وظيفه می‌نمايد، مبلغ، نه صد (۹۰۰) افغانی در روز.
۱۴- حق الزحمهٔ کارکنـــان چـــک، اسکن و درج فی فـــورم ثبـــت نـــام

چک، اسکن او درجولود کارکوونکو حق الزحمه، شپاړس (۱٦) افغانۍ او متفرقه نهه ويشت (۲۹) افغانۍ، د هر رسمي کارکوونکي د عوايد له سرجمع څخه دېرش سلنه (۳۰٪) دولتي واحد حساب ته تحويلېږي.

۱۵- له اداري څخه بهر د هغه کارکوونکي حق الزحمه چې د اړتيا پر بنسټ د کانکور د آزموينې د اړوندو چارو د پر مخ بېولو لپاره توظيفېږي، په ورځ کې اووه سوه (۷۰۰) افغانۍ.

۱٦- د قرنطين په شپو کې د کانکور د آزموينې د کمېټې د غړو حق الزحمه، په شپه کې پنځه سوه (۵۰۰) افغانۍ.

۱۷- په مرکز کې د بايوميټريکي معلوماتو د ثبت کارکوونکو حق الزحمه، د هريو داوطلب نه، لس (۱۰) افغانۍ.

۱۸- د کانکور آزموينې د داوطلبانو بايوميټريکي چک او پېژندنې کارکوونکو حق الزحمه، د آزموينې په ورځ کې پنځه سوه (۵۰۰) افغانۍ.

۱۹- د ولايتونو کانکور آزموينې په هر

داوطلب امتحان کانکور عمومی، مبلغ شانزده (۱٦) افغانی و متفرقه مبلغ بیست ونه (۲۹) افغانی، از سر جمع عواید هر کارمند رسمی سی فیصد (۳۰٪) به حساب واحد دولتی تحویل می‌گردد.

۱۵- حق الزحمۀ کارکن خارج از اداره که به اساس ضرورت جهت پیشبرد امور مربوط به امتحان کانکور توظیف می‌گردد، مبلغ، هفت صد (۷۰۰) افغانی در روز.

۱٦- حق الزحمۀ اعضای کمیتۀ امتحان کانکور در شب های قرنطین مبلغ، پنجصد (۵۰۰) افغانی در شب.

۱۷- حق الزحمۀ کارکنان ثبت معلومات بایومتریک فی داوطلب در مرکز مبلغ، ده (۱۰) افغانی.

۱۸- حق الزحمۀ کارکنان چک و شناسایی بایومتریکی داوطلبان امتحان کانکور مبلغ، پنجصد (۵۰۰) افغانی در روز امتحان.

۱۹- حق الزحمۀ ثبت معلومات

یو داوطلب د بایومیتریک او پېژندنې د معلوماتو ثبتولو حق الزحمه، لس (۱۰) افغانۍ، سربېره پر دې په یوه شــپه او ورځ کې د اعاشې لپاره، پنځه ســوه (۵۰۰) افغانۍ.

## درییم فصل

## د کانکور آزموینې د غوښتونکي مکلفیتونه

**د موارردو رعایتول**

**څوارلسمه ماده:**

د کانکور آزموینې غوښتونکي د لاندې مواردو په رعایتولو مکلف دی:

۱- اړونده قوانین، مقررې، کړنلارې او د لایحو رعایتول.

۲- د آزمــوینې نظـــم او دســـپلین رعایتول.

۳- د نارینه او ښځینه کوډ رعایتول.

۴- مؤظف ممتحن تـــه د آزمـــوینې د سندونو (د شمولیت کارت، د حاضرۍ دفتر، د ځوابونو پـــاڼې او د پوښـــتنو کتابچې) تسلیمول.

بایومتریک و شناسایی فی داوطلب در امتحان کانکور ولایات مبلغ، ده (۱۰) افغانی، علاوه بر آن مبلـــغ، پنجصـــد (۵۰۰) افغانی در یک شبانه روز برای اعاشه.

## فصل سوم

## مکلفیت های متقاضی امتحان کانکور

**رعایت موارد**

**مادۀ چهاردهم:**

متقاضی امتحان کانکور مکلـــف بـــه رعایت موارد ذیل می‌باشد:

۱- رعایـــت قـــوانین، مقـــرره هـــا، طرزالعمل ها و لوایح مربوط.

۲- رعایت نظم و دســـپلین امتحـــان کانکور.

۳- رعایت کود ذکور و اناث.

۴- تسلیم دهی اسناد امتحان کانکور (کارت شمولیت، دفترحاضری، کتابچۀ سوالات و ورق جوابات) به ممـــتحن مؤ ظف.

## د کانکور د غوښتونکي ممنوعيت

**پنځلسمه ماده:**

د کانکور د آزموينې غوښتونکی مکلف دی د لاندې عملونو څخه ډډه وکړي:

۱- د جارحه او ناريه وسايلو حمل او نقل.

۲- د هغو برېښنايي وسايلو حمل او نقل چې له هغو څخه د معلوماتو انتقالول متصور وي، لکه موبايل، د حساب ماشين، مخابره، ساعت او ځيرک قلم او کمره.

۳- د آزموينې په سندونو کې لاس وهنه (د شمول کارت، حاضرۍ دفتر، د پوښتنو کتابچې او د جوابونو پاڼه).

۴- له اضافي پاڼو څخه ګټه اخيستل.

۵- د آزموينې په دوام کې يا مخکې له آزموينې د پوښتنو افشاء کول.

۶- نقل ورکول.

۷- قومي، سمتي، ژبني او مذهبي تعصباتو ته لمن وهل چې د آزموينې سلامتيا له ګواښ سره مخامخ کوي.

۸- د کانکور آزموينې په دوام کې د

## ممنوعيت متقاضی کانکور

**مادۀ پانزدهم:**

متقاضی امتحان کانکور مکلف است از انجام اعمال ذيل خود داری نمايد:

۱- حمل و نقل وسايل جارحه و ناريه.

۲- حمل و نقل وسايل الکترونيکی که انتقال معلومات از آن متصور باشد، مانند موبايل، ماشين حساب، مخابره، ساعت و قلم هوشمند و کمره.

۳- دستبرد اسناد امتحان (کارت شمول، دفترحاضری، کتابچۀ سوالات و ورق جوابات).

۴- استفاده از اوراق اضافی.

۵- افشاء کردن سوالات در جريان امتحان يا قبل از امتحان.

۶- نقل دادن.

۷- دامن زدن به تعصبات قومی، سمتی، زبانی و مذهبی که سلامت امتحان را به خطر مواجه نمايد.

۸- سوء استفاده از صلاحيت های

وظیفوي صلاحیتونو څخه ناوړه ګټه اخیستل.

۹- د کانکور د غوښتونکي معلومات د اداري له اجازې پرته افشاء کول.

۱۰- د کانکور د آزموینې د غوښتونکي په عوض برحاله محصل یا بل کس آزموینه ورکول.

۱۱- د کانکور ازموینې په پای کې د ځوابونو پاڼې او د پوښتنو کتابچې وړل.

۱۲- د کانکور د آزموینې د غوښتونکي په شهرت، آی ډي نمبر او نورو معلوماتو کې لاس وهنه.

۱۳- د کانکور د آزموینې د پایلو د اعلانولو په وخت کې د لوړو زده کړو د وزارت ویب پاڼې حک کول.

۱۴- د تابعیت د تذکرې او د ښوونځي د سندونو او یا د نوم لیکنې د فورم جعل او تزویر.

۱۵- نور هغه عملونو چې د لوړو زده کړو وزارت د کانکور آزموینو ریاست لخوا منع شوي وي.

وظیفوی در جریان امتحان کانکور.

۹- افشاء نمودن معلومات متقاضی کانکور بدون استیذان اداره.

۱۰- امتحان دادن محصل بر حال یا شخص دیگر به عوض متقاضی امتحان کانکور.

۱۱- بردن ورق جوابات و کتابچۀ سوالات در ختم امتحان کانکور.

۱۲- دست کاری در شهرت، آی دی نمبر و سایر معلومات متقاضی امتحان کانکور.

۱۳- حک کردن ویب سایت وزارت تحصیلات عالی حین اعلان نتایج امتحان کانکور.

۱۴- جعل و تزویر در تذکرۀ تابعیت و اسناد مکتب و یا فورم ثبت نام.

۱۵- سایر اعمالی که از طرف ریاست امتحانات کانکور وزارت تحصیلات عالی منع شده باشد.

## د کانکور د غوښتونکي تأدیب

**شپاړسمه ماده:**

د لوړو زده کړو وزارت د کانکور آزموینې کمېټه کولی شي د کانکور د غوښتونکي د سرغړونې په صورت کې په دې مقرره کې درج د څوارلسمې او پنځلسمې مادې له حکمونو څخه په لاندې ډول تأدیب کړي:

۱- توصیه.

۲- لیکلی اخطار.

۳- له آزموینې څخه محرومیت.

۴- د بلې آزموینې د شمول د حق سلبول.

۵- عدلي او قضایي مراجعو ته ورپېژندل.

## د کمېټې د غړو تأدیب

**اووه لسمه ماده:**

د لوړو زده کړو وزارت د کانکور آزموینې کمېټه کولی شي د کانکور آزموینې د کمېټې غړي پدې مقرره کې له درج شوو حکمونو څخه د سرغړونې په صورت کې په لاندې ډول تأدیب

## تأدیب متقاضی کانکور

**مادهٔ شانزدهم:**

کمیتهٔ امتحان کانکور وزارت تحصیلات عالی می تواند در صورت تخلف متقاضی کانکور از احکام مندرج مواد چهاردهم و پانزدهم این مقرره، حسب ذیل تأدیب نماید:

۱- توصیه.

۲- اخطار کتبی.

۳- محرومیت از امتحان کانکور.

۴- سلب حق شمول در امتحان بعدی.

۵- معرفی به مراجع عدلی و قضایی.

## تأدیب اعضای کمیته

**مادهٔ هفدهم:**

کمیتهٔ امتحان کانکور وزارت تحصیلات عالی می‌تواند اعضای کمیتهٔ امتحان کانکور را در صورت تخلف از احکام مندرج این مقرره حسب ذیل تأدیب

کړي:

۱- توصیه.

۲- لیکلی اخطار.

۳- د آزموینې له صحن څخه ایستل.

۴- د معاش کسر.

۵- د کانکور د آزموینې له کمېټې څخه د غړیتوب سلبول.

## څلورم فصل

## متفرقه حکمونه

**د کانکور د آزموینې د کمېټې د غړو د شمېر ټاکل**

**اتلسمه ماده:**

د کانکور د آزموینې د کمېټې غړي، هر کال، کاري حجم او خصوصیت ته په کتو سره، د آزموینو د لوی ریاست په وړاندیز او د لوړو زده کړو د وزیر په منظورۍ ټاکل کېږي.

**د ممتحنو استادانو د شمېر ټاکل**

**نولسمه ماده:**

په مرکز او ولایتونو کې ممتحن استادان او د استادانو مرستیالان، د داوطلبانو

نماید:

۱- توصیه.

۲- اخطار کتبی.

۳- اخراج از صحن امتحان کانکور.

۴- کسر معاش.

۵- سلب عضویت از کمیتهٔ امتحان کانکور.

## فصل چهارم

## احکام متفرقه

**تعیین تعداد اعضای کمیتهٔ امتحان کانکور**

**مادهٔ هجدهم:**

اعضای کمیتهٔ امتحان کانکور همه ساله با نظرداشت حجم و خصوصیت کاری به پیشنهاد ریاست عمومی امتحانات کانکور و منظوری وزیر تحصیلات عالی تعیین می‌گردند.

**تعیین تعداد استادان ممتحن**

**مادهٔ نزدهم:**

استادان و معاونین استادان ممتحن در مرکز و ولایات بانظرداشت تعداد

شمېر، د کـــار حجـــم او د آزمـــوينې معيارونو ته په کتو سره، د آزمويـنـــو د لوی رياست له خوا ټاکل کېږي.

## د آزموينو د لوی رئيس مکلفيت

**شلمه ماده:**

د آزموينو لوی رئيس مکلــف دی، د کانکور د آزموينې د کمېټې د کار لــه بهير څخه څارنه ترسره او د کانکور د آزموينې د کمېټې د غړو له حاضــرۍ څخه مراقبت وکړي.

## د حق الزحمې د قطع حالتونه

**يوويشتمه ماده:**

که چېرې د څارنې په بهيــر کــې، د کانکور د آزموينې د کمېټې د غړي او د چک او انټري د کارکوونکي کـــار اغيزمن ونه ارزول شي او يا د چارو په ترسره کولو کې اهمال يا ټکي وکړي، د آزموينو د لوی رياست د وړانديز او د لوړو زده کړو د وزير د تأييد پر بنسټ، د هغه حق الزحمه قطع کېږي.

داوطلبان، حجم کار و معيـــار هـــای امتحان، از جانب رياســـت عمـــومی امتحانات کانکور تعيين می‌گردند.

## مکلفيت رئيس عمومی امتحانات

**مادۀ بيستم:**

رئيس عمومی امتحانات کانکور مکلف است، از جريان کار کميتــۀ امتحـــان کانکور نظارت بـــه عمـــل آورده از حاضری اعضای کميتۀ امتحان کانکور مراقبت نمايد.

## حالات قطع حق الزحمه

**مادۀ بيست و يکم:**

هرگاه در جريان نظارت، کارعضـــو کميتۀ امتحـــان کـــانکور و کـــارکن چک و انتری، مؤثر ارزيابی نگردد و يـــا در اجـــرای امـــور اهـــمال و سهل انگـــاری نمايـــد، بـــه اســـاس پيشنهاد رياست عمومی امتحانـــات و تائيـــد وزيـــر تحصـــيلات عـــالی، حق الزحمۀ وی قطع می‌گردد.

**تزئید او تنقیص**

**دوه ویشتمه ماده:**

د لوړو زده کړو وزارت کولای شي د پیسو نوساناتو ته په پام سره، ددې مقررې په دیارلسمه ماده کې درج شوې حق الزحمې اندازه د مالیې وزارت له موافقې وروسته د پړاوونو د ترسره کولو په غرض وړاندې کړي.

**د حق الزحمې د اړتیا وړ بودجه**

**درویشتمه ماده:**

د کانکور د آزموینې د اړوندو فعالیتونو د حق الزحمې د اړتیا وړ بودجه، هر کال له مالیې وزارت سره په تفاهم کې د لوړو زده کړو وزارت په بودجه کې په پام کې نیول کېږي.

**له بریښنایي وسایلو څخه د ګټې اخیستنې منع**

**څلېریشتمه ماده:**

د کانکور د آزموینې د کمېټې غړي د قرنطین په وخت کې نشي کولای له موبایل، کمرې او نورو هغو بریښنایي وسایلو څخه چې له هغوی څخه د

**تزئید و تنقیص**

**مادۀ بیست و دوم:**

وزارت تحصیلات عالی می‌تواند بانظرداشت نوسانات پولی، اندازۀ حق الزحمۀ مندرج مادۀ سیزدهم این مقرره را بعد از موافقۀ وزارت مالیه غرض طی مراحل ارائه نماید.

**بودجۀ مورد نیاز حق الزحمه**

**مادۀ بیست و سوم:**

بودجۀ مورد نیاز حق الزحمۀ فعالیت های مربوط به امتحان کانکور، همه ساله در تفاهم با وزارت مالیه در بودجۀ وزارت تحصیلات عالی درنظر گرفته می‌شود.

**منع استفاده از وسایل الکترونیکی**

**مادۀ بیست و چهارم:**

اعضای کمیتۀ امتحان کانکور حین قرنطین نمی‌توانند از موبایل، کمره وسایر وسایل الکترونیکی که از آن انتقال معلومات متصور باشد،

معلوماتو لېږد متصور وي، ګڼه واخلي.

**انفاذ**

**پنځه ویشتمه ماده:**

دغه مقرره په رسمي جریـــده کـــې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

استفاده نمایند.

**انفاذ**

**مادۀ بیست و پنجم:**

این مقرره از تاریخ نشـــر درجریـــدۀ رسمی نافذ می گردد.

## اشتراک سالانه:

در مرکـــــز و ولایـــــات :　　　(۹۰۰) افغـــــانی

بـــرای مـــامورین دولـــت: بـــا ۲۵ فیصـــد تخفیـــف

برای متعلمین و محصلین با ارائه تصـــدیق، نصـــف قیمـــت

برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی جلد

خـــارج از کشـــور:　　　(۲۰۰) دالـــر امریکـــائی

# ISLAMIC REPUBLIC
# OF
# AFGHANISTAN
# MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

- **Amendment and Addition to some Articles of Law on Travel and stay of Foreign Citizens in Islamic Republic of Afghanistan**
- **Reamendment of Article 15 of Regulation on Night-shift Higher Educations**
- **Regulation on Kankor Examination**

**Date:10th June.2018**
**ISSUE NO:(1302)**